# په ملاکنډ کښې د پښتو غزل د ارتقاء څېړنيز جاج

**Dr Sher Zaman Seemab**[*]

**ABSTRACT:**

Literary activities in Malakand have been intact for more than one century. Beside this folklore literature has also his roots in the area. By the end of the last century modern poetry has its profound influence in Malakand. So far a number of creations have been produced by the literary personalities of this area covering all aspects of modern poetry. This has contributed a lot of to the field of Pashto literature. Pashto Ghazal has a long history and in Malakand it has completed a journey of more than one century. Pashto Ghazal has started its journey in the eve of independence movement portraying Pashto Ghazal more colorful. Romanticism, Realism. Mysticism, Nationalism, Rationalism, Folklore and Cultural coolrs have been added to Pashto Ghazal by the literary personalities of this area.

د ملاکنډ د خاورې، علاقې او اولس تاريخ د نړيوال تاريخ يو لويه او مهمه برخه ده ـ د معلوم تاريخ نه ددې علاقې تذکره د تاريخ په پاڼو کښې موجود ده ـ د لويو تهذيبونو، مذهبونو ټاټو بې ملاکنډ چې د يولوئے او اوږد انساني ژوند تمدن او کلتور امين دے او د ډېرو قامونو د کلتور ژوند نخښې نښانې ئې په خپل سمه او غر کښې محفوظ کړې دي نن دا پښتنو د لويې تاريخي قبيلې يوسفزو استوګن ځائے دے ـ

دا وخت په ملاکنډ کښې يوشمېر ادبي تنظيمونه د پښتو ژبې او ادب د خدمت د پاره هلې ځلې کوي ـ

---

[*] Assistant Professor Pashto Academy University of Peshawar

ادبي پس منظر:

مونږ چې کله په ملاکنډ کښې د شاعرۍ کنهې زېلې لټوؤ نو د اله ډهنډ ډهېرۍ چشتي الله داد المعروف چشتي بابا (۱۰۸۹ نه ۱۱۵۷ پورې)[۱] رامخې ته کېږي چې شعرونه ئې سينه په سينه راروان دي. لکه

تالاشـــه پـــه تـــا هـــره بـــلا راشـــه
چـــې ميـــان الله داد راشـــي
تـــا هـــيخ کلـــه اونـــۀ وې
چـــې هـــر کلـــه تـــه راشـــه

چشتي الله داد د کريمداد خورئے او اخون درويزه نمسے وو. د پلار نوم ئې ادم خان افغان وو[۲]. خوشحال بابا په سوات نامه کښې د چشتي الله داد په حقله وائي.

د ميـان نـور مفتيـان د سـوات پـه ملـک کښـې دوه دي
الله داد او دوســـت محمـــد دواړه يـــاوه دي[۳]

د چشتي الله داد که مونږ سره د کلام څۀ ډېره ذخيره نشته خو بيا هم د دغه سينه په سينه د راروانو شعرونو په بنياد د ملاکنډ د ادبي زنځير دغه سر کړۍ د څېړنې پامته داره ده. د اله ډهنډ چشتي په ټپو او مصرعو کښې هم ياد شوے دے لکه:

د الـــه ډهنـــډ پـــه اديـــره کښـــې
د الله داد چشـــــتي غرېـــــږي نوبتونـــــه
چـــې ســـوات تـــه ځـــې پـــه ملاکنـــډ ځـــه
د الـــه ډهنـــډ پـــه چشـــتي وايـــه ســـلامونه

د الله داد چشتي په روضه به هم په يو وخت کښې لکه د بري امام د مېلې هر کال مېله لګېده ـ چې د خواؤ شا کلو خلق به ورته راتلل او د ساز و اواز نوبتونه به په کښې غږېدل ـ دا روايت د فېرنګي په دور کښې ختم کړے شوے دے ـ

دوېمه نامه د فقير قدرت الله نقشبندي رامخې ته کېږي. چې د محمد افتخار فاروقي مغل خېل په خوارۍ د دۀ قلمي نسخه "کتاب الشفا"[۴] موندې شوې ده. د دۀ تعلق د اله ډهنډ ډهېرۍ سره وو او د فاروقي صېب د دغه قلمي نسخې مطابق په ۱۷۲۱ء کښې پېدا شوے او د پنځۀ شپېتۀ کالو په عمر کښې وفات شوے دے. د پلار نوم ئې محمد حسېن عرف صاحبزاده بابا وو.[۵] چې د خوشحال بابا (۱۲۱۳ء نه ۱۶۸۹ء پورې) نه خواؤشا يو سل اتۀ کاله کشر دے. دريم شاعر چې زمونږ سره په پښتو ادب کښې د تېر هېر شاعران په مستنده حواله موجود دے هغه د تاڼې نور محمد دے چې د اثر صېب مطابق ۱۲۰۰هـ پورې ژوندے وو[۶]. د نور محمد د پېداوښت نېټه تر اوسه نشته خوبياهم د فقير قدرت الله نقشبندي همعصر دے. په دغه دور کښې چې کوم رونړ شاعر په نظر راځي نو هغه د ښارعبدالعظيم رانيزے (۱۱۶۷هـ نه ۱۲۵۳هـ پورې) دے[۷]. چې د کلاسک دور ښۀ خوږ او پوخ غزلګو تېر شوے دے.

کله چې د شلمې صدۍ نمر اولګېدو نو په ټوله نړۍ کښې نوې ساه راغله. د دنيا ادبياتو ته سياست او سياسي نظريات راننوتل. ادب تش د ادب دپاره پاتې نۀ شو بلکې شعوري طور پکښې د ژوند دپاره هلې ځلې شروع شوې. نظم او نثر دواړه د جدت په لار سم کړے شول او ادب خپله لمن فراخه کړه چې د انساني ژوند ټولې ستونزې او کشالې ئې په خپله ځولۍ کښې رااونغښتلې.

پښتو ادب هم ډېره بدله کړه او د نوې دنيا د نوي ادب سره ئې ځان روانېدو ته جوړ کړو. د ملاکنډ خاوره هم په دغه زغل کښې د چا نه وروستو نۀ وه. او عېن په دغه وخت چې نوې صدۍ خپله رېنائي خوروله د ملاکنډ په خاوره د آزادۍ د جنګ دپاره غازيانو د ملاکنډ په کنډؤ خپلې وينې تويولې. په دې خاوره هر طرف ته د

آزادۍ چغې سورې راختې. سرتور فقیر د دې ځائے د غازیانو صف بندي کړې وه. په دغه زمانه کښې هم د دې ځائے ادب په دغه سنګر د غازیانو سره اوږه په اوږه ولاړ وو.

په ملاکنډ توره تیاره شوه
هارونه توره ځلوه چې رڼا شینه
یا
په ملاکنډ ئې توپې چل کړې
تر رنګ مالا پورې ئې اوشیندل ګلونه

دغسې ډېرې ټپې چاربېتې او سندرې وغېره د دغه وخت د ادب بې بها ملغلرې دي. چې په دغه لمبه وختونو کښې د تخلیق د مرحلو نه تېرې شوې دي. او تر دې وخته سینه په سینه رارواني دي.
هر کله چې د ملاکنډ د غزاګانو دغه زمانه د اولسي شاعرۍ زمانه وه او په پښتو ادب د اولسي شاعرۍ سحر خور وو. په کال ۱۳۲۳هـ بمطابق ۱۹۰۵ء د ملاکنډ د بټ خېلې کلي یو شاعر قاضي عرفان الدین (۱۸۲۲ء نه ۱۹۳۱ء پورې) د اله ډهنډ ډهېرۍ د محمد شریف خان د زوئي محمد ظریف خان د وادهٔ سهره لیکلې وه چې پښتو کښې دا وړمبۍ سهره ښکاري. دغه سهره که یو پله د ظریف خان د وادهٔ نېټه محفوظ کوي او د هغه د خاندان تاریخي، سماجي او سیاسي حېثیت پله اشاره کوي نو بل پله ددې دور د شاعرۍ رنګ هم خوندي کوي او د ارتقاء بنیادونه ئې هم په ګوته کوي.

چند ابیات افغاني در بیان عروسی
محمد ظریف خان فرزند ارجمند علیجاه محمد شریف خان صاحب

هغه خان بلند مکان عظیم الشان
چې قلم ئې د صفته دے ناتوان
شجاعت او سخاوت ئې بې نظیر وي
په اخلاص په مروت کښې دي یګان

په همت کښې دے رستم زابلي دے
په سخا کښې دے حاتم ددۀ دربان
امداري ئې په اطرافو کښې خوره ده
په عزت سره ډېرې ددۀ مکان
کان په کان د دوي په کور کښې حکومت وي
پشت په پشت دے د خانۍ دغه دکان
نوم د توري د رکاب د دوي منصب دے
نشته سوات کښې دا رنګ بل يو خاندان
ددۀ زوئے چې يادګار محمد ظريف دے
تازه ګل دے د بهار په ګلستان
خان صاحب ئې د وادۀ جشن تيار کۀ
هسې شان چې کړو ئې عقل سرګردان
د فلک سترګې د ستورو نه پولۍ شوې
ددې جشن په کتو کښې شو حېران
سپوږمۍ خپل فانوس چراغ ددې مجلس کړو
عطارد کړو په حساب قلم چالان
د زهره په لاس کښې چنګ شو درې ورې
د خورشيد خيمې جهان کړو درخشان
مشتري شو خريدار د جواهرو
په مجلس کښې توئېدل به رايګان
مريخ خپل قهر غضب وخوړ دننه
په زحل شه د ښادۍ زېرے عيان
دې ښادۍ د غم لښکر زېر و زبر کړو
ګويا نۀ وو په جهان د غم نشان
عزت مند د جهان واړه وو راجمع

مهیا ؤ د خوشۍ واړه سامان
د خوراک پوشاک ادراک عقل ونه کړو
د زینت زېور ګودر ؤ بې پایان
هر سړے د خوشحالۍ په زېور پور ؤ
که امیر ؤ که فقیر ؤ که دهقان
د هر چا پالنه وه تر حده تېره
دا په دا چې خان صاحب ؤ ډېر شادان
که زنځیر د تقوٰی نۀ وې زمونږ پښو کښې
مونږ به هم وو حاضر شوي په مېدان
که مو نۀ وې په ګردن د شرعې واګې
د عشرت سمند به کړے ؤ جولان
مګر نشته دے حاجت زمونږ حضور ته
نیت صورت په خپل عادت کوي ګذران
دوست هغه وي چې د لري موافق وي
مخامخ خوشامندګر وي بازاریان
همېشه دې دا دربار په عېش عشرت وي
سرنګون زبون دې وي ټول دشمنان
برکت عزت رفعت دې قط په قط وي
جاه جلال نعمت نوال دي فراوان
تازه تر دې شګوفې ددې ګلشن وي
دا چمن دې وي په امن د خزان
لاله زار ددې بهار دي په قطار وي
بلبلان دې په چغار وي پرې ګویان
سن د هجر ؤ زر درې سوه دپاسه
درویشت باندې د نبي اخر زمان

نولســـــمه د وړمبـــــی خـــور وه تمامــــــه
چـــې شـــو خـــتم دا عـــورس پـــه ښـــۀ عنـــوان
دا تـــاریخ ئـــې پـــه پښـــتو کښـــې مفصـــل دے
پـه ابجـدو کښـې مجلـس ظریـف بیـان (۱۳۲۳هـ)
قاضـــي بـــس کـــړه مختصـــر وئیـــل پکـــار دي
پـــه نـــري رمـــز پـــوهېږي عـــاقلان
زمانـــــه دســـــره نـــــۀ ده موافـــــق
تـــۀ تـــابع د زمـــانې شـــه پـــه ښـــۀ شـــان[8]

د قاضي عرفان الدين[9] ولد سيد محمد معصوم دا سهره په ملاکنډ کښې د هغه شعر عروج ښکاري کوم چې د چشتي الله داد نه ابتدا کړې وه او د تانې نور محمد او د ښار عبدالعظيم رانېزي پرې د خپل فکر و فن ملغلرې شيندلي دي.
ددې سهرې دا ارزښت په خپل ځائے چې دا صنف په پښتو کښې متعارف شوے دے دا شاعري ډېره پخه بامعني او بامقصده ده . چې د کلاسک شاعرۍ ژور اثرات پرې ښکاري . ددې سهرې سره چې په فارسۍ ژبه کومه سهره ليکلې شوې ده ددې نه معلومېږي چې دا شاعر د خپل وخت عالم فاضل شخصيت ؤ او لکه چې د سهرې نه څرګنده ده د شريعت نه خبر ؤ . علم ئې حاصل کړے ؤ او د شعري هنر او اسلوب اګاهي ئې هم لرله.
دغه زمانه چې پېرنګے د ملاکنډ په خاوره لکه د نور ټول وطن په زور قابض شوے ؤ او د وطن ئې د پښو لاندې کړے ؤ . چاپېره د ازادۍ تنګيالو د خپل خوږ وطن د ازادۍ بېرغ هسک کړے د غلامۍ خلاف په مېدان جنګ کښې ولاړ وو.
د توري سره د دې خاورې تنګيالو د قلم ژبه هم چلولې ده. چې پکښې مرزا عبدالرحيم (۱۲۹۸هـ نه ۱۳۷۵هـ پورې)[10]. د هغۀ ځوئے عبدالرؤف قربان[11]، محمد اسلام اجملي[12]، عبدالله جان شريف نومونه لکه د نمر ځلېږي. چې په

دوئ کښې به د عبدالله جان شریف نثر لیکونه ، مضامین او کلام په ''پښتون'' مجله کښې په باقاعدګۍ سره خپرېدو.

د عبدالله جان شریف او عبدالرؤف قربان د کلام نمونې بالترتیب په دې ډول دي۔ چې د ''پښتون'' مجلې په پاڼو کښې خورې شوې دي۔

د امیـــر دنیـــا ابـــاده ســـبزه زاره ده
د غریـــب دنیـــا ویرانـــه خـــار زار ده
د امیـــر دنیـــا کښـــې شـــور د چنـــګ ربـــاب وي
د غریـــب دنیـــا د اه فریـــاد پُکـــار ده
د امیـــر دنیـــا کښـــې د ے ارام ســـکون
د غریـــب دنیـــا د ســـوز او اضـــطرار ده[۱۳]

مـــزه نـــۀ کـــوي ژونـــدون بغېـــر د یـــار نـــه
وصـــال چـــا مونـــدلے نـــۀ د ے بـــې رېبـــار نـــه
چـــې د زړۀ وینـــې خـــوراک د عاشـــق نـــۀ شـــي
کلـــه جـــام د وصـــال مـــومي د دلـــدار نـــه

هـــر یـــو تخـــم چـــې د خـــاورو لانـــدې پـــټ شـــي
بـــوټے هلـــه نفـــع منـــد شـــي لـــه بهـــار نـــه[۱۴]
نـــن ســـحر وختـــي وتلـــے ووم ګلشـــن تـــه
مـــا تپـــوس کـــړۀ د ګلونـــو د ګلـــزار نـــه[۱۵]

د پښـتون رسـالې دا باقاعـده لیکـوال د پښـتو ژبـې او ادب د ودې د شـعوري تحریک خدائي خدمتګار باقاعده غړي او ددغه تحریک د سیاسي ، سماجي او قامي فکر مبلغین وو۔ عبدالرؤف قربان په درې یتیمان ډرامه کښې کردار هم ادا کړے ؤ[۱۲] ۔چې ددې نه څرګندېږي چې دا لیکوال د فکر و فن په حواله د ملاکنډ د ادب هغه بانیان دي چې دلته ئې د مقصدي او فکري ادب شعوري روزنه کړې ده۔

د اولسي شاعرۍ دور:

او بیا لکه څنګ چې یو وخت په نور پښتو ادب کښې د اولسي شاعرۍ درز خور شو نو د ملاکنډ په خاوره هم حجرې د اولسي شاعرۍ په مېلسونو اوشورېدې. چې پکښې د دې خاورې اولسي شاعران اخون پام جان، بخت جان شاکر د ښار، مزین ګل استاد د پلۍ، سمېل خان او غلام حېدر خان د بازدرې، زرد الله اخون، کند محمد او د دۀ کشر ورور ولي محمد د اله ډهنډ، فقیر شاه مسکین د دۀ ورور ګوهر شاه، حمز الله د دۀ مشر ورور زېن الله، شېر مالک توردا، منان استاد، افتاب رشید زړۀ سوے، عالم زېب شالدا، شېرافضل خان چشتي او نعمت الله بجاز د تانړې او سالک محمد د طوطه کان یاد شاعران وو. د دې اولسي شاعرانو په لوبو، چاربېتو او بدلو به د علاقې حجرې هر ماسخوتن ګرمې وې. چې د علاقې خلق به پکښې راغونډ وو. ځینې شاعرانو به په خپل خوږ اواز خپله شاعري د رباب منګي په موسیقۍ کښې وئیله او د ځینو شاعرانو شاعري به د علاقې خوش اواز فنکارانو د موسیقۍ سرونو ته سپارله.

د حمزه الله میاں ځینې خوندناکې چاربېتې په خپل وخت ډېرې خوښولې شوې لکه دا چې :-

قیصۍ درته کومه د جمات د چرچوړي
چې وخت د مازیګر شي جینکۍ ترې اوبۀ وړي

یا دا چې

هلۍ زړۀ مې خور شولو اوکړه یو منت پرې وار
یا هلکه جارو ئې نۀ کړې دلته قدم دے د یار

دې اولسي شاعرانو به هم د ژوند او رومان په تالونو ځنګل او هم به ئې په تنقید ، تبصره ، قیصو ، روایاتو او د علاقې په بدلیدونکو سیاسي حالاتو نظر ؤ ۔د اخون پام جان په مقامي کاروباري طبقه جوړه کړې یوه چاربېته به هغه د حجرو په مېلس کښې تېروله۔د چاربېتې سر څۀ دا رنګې ؤ۔

امبرسر[۱۷] ته پسې مۀ ځه سیکان دادي

غزل:

په کال نولس سوه اووۀ څلوېښت (۱۹۴۷ء) کښې پېرنګے لاړ او هندوستان تقسیم شو. د دې لوئے انقلاب سره د یو نوي دور ابتدا وشوه. د اولسي شاعرۍ زور لاکم نۀ وو. چې یو ځل بیا ادبي شاعرۍ سر اووهو. او د غزل د ېر زړۀ پورې شاعران راڅرګند شو. د نوي دور تعلیم یافته زلمي غزل پله متوجه شول او د خپلو جذبو د اظهار دپاره ئې د غزل د پیرائې انتخاب اوکړو، خو دا ځل غزل هغه زوړ او روایتي رنګ او معنې بدلې کړې وې. د ښځو سره د خبرو غزل نۀ وو پاتې د جدید دور د تقاضو، غوښتنو او ضرورتونو نه خبر وو. د نړۍ په مخ د بدلونونو او نوې نظریو ښکالو هم د غزل ښکلا وګرځېدله.

دا غزل د آزادۍ د تحریک د شور په غېږ کښې اوتوکېدو او دا وجه وه چې د نوې دنیا فکرونو سائنسي زغل او علمي او ادبي رنګ ئې د مضمون او معنې ښکلاګانې رابرخېره کړې. په ملاکنډ کښې د عوامي خېل تحریک په راجوړېدو او د بالغ رائے دهي په غوښتنه یوه سیاسي فضا جوړه شوه د دې اثر د دې ځائے د عام اولس سره په ادب هم اوشو چې پکښې د انقلابي ذهن لرونکي او یا په ادبي اصطلاح کښې ترقي پسند لیکوال پیدا شو.

د ملاکنډ د غزل په پېلات کښې عبدالله جان شریف، محمد اسلام اجملي، پروفیسر محمد نواز طائر، پروفېسر عبدالحق نسیم، فقیر شاه مسکین، پروفېسر غلام یوسف یوسف، پروفېسر محمد اسلام ارماني، رحمت شاه سائل، عبدالحکیم قادري، خورشېد روشن، وغېره شامل دي. چې پرله پسې ئې د غزل په ابتدائي وختونو کښې په خپلو فکرونو ابیاري کړې ده.

د ۱۹۶۴ء[۱۸] خواؤشا ډاکټر فضل دین خټک د نوکرۍ په سلسله کښې په تانه کښې اوسېدو په دغه ورځو کښې د شاعرانو په راغونډولو او ادبي هلو ځلو چمتو کولو کښې دوئ هم یو فعال کردار ادا کړے دے. دغه ادبي هلو ځلو او نشستونو هم د دې ځائے په غزل خپل ښاپې پرېښې دي.

د غزل د دغه وړومبي کهول سره جوخت ډېر ښاغلي راپاڅېدل او د جديديت دغه خواږهٔ ئې د ملاکنډ په غزل پېرزو کړل. چې پکښې زرنوش شهاب، سرور خټک، محمد سعيد غمګين، رضا شاه رضا، پروفېسر فضل کريم ناشاد، شاه ذوالله اسير، هاشم صابر سرهندي، شېرزمين ماهر، بشير احمد قاصر، امير رزاق ساحل، امير قاسم هاشمي وغېره نومونه د ستائيلو جوګه دي.

دا وخت د ملاکنډ په خاوره د پښتو د جديد غزل په حواله ډېر ښاغلي موجود دي. چې غزل ئې د لرې برې پښتونخوا د جديد غزل تر څنګه روان کړے دے. په دې ښاغلو کښې ارواښاد ډاکټر صاحب شاه صابر او نور ښاغلي حبيب الرحمان افګار، ډاکټر انور حسېن زرين، پروفېسر بهرام زخمي، نوشېروان عادل، ډاکټر غلام حسېن ياس، ګوهر رحمان راز، پروفېسر فضل نصير اسير، بادشاه شېرين وصال شامل دي.

په نوي کهول کښې د علي خېل درياب، فېض محمد مظلوم، فضل مولا خيال، اقبال شاکر، شهباز محمد، ديدار طائر، امجد شهزاد، فضل الرحمان شاهد، محمد زېب منصور، فضل سبحان عابد، زاهد شباب رانيزے، فضل سبحان شاکر، صابر حجازي، علي اکبر ملاکنډ، باچا رحمان همدرد، محمد رسول رسا، محمد عالم الم، محمد طاهر وغېره نومونه د ملاکنډ د جديد غزل په حواله پېژندے شي.

د ملاکنډ خاوره د غزل په حواله ډېرې نوخېزې غوټۍ هم لري. چې خوشبوګانې ئې په ټول وطن خورېدونکي دي. دا نامې هم د يادولو وړ دي. امين خان تنها، پير قائل بغړزے، قدر واحد سمندر يوسفزے، درمان علي خېل، سلمان اقبال نسيم، سمسور اتمان خېل، طفېل زرياب يوسفزے، صابر علي صابر، فضل سبحان ساجد ، ځاريوسفزے، بخت زمين زرياب، دوست محمد وهمي، ناصر امين، عزيز خان شمال، مسلم انتظار ، عتيق عالم ، رحمت جان رحمت وغېره.

پروفېسر محمد نواز طائر:

یــا دیږي دګــل ســختې مــې خنــدا د رود پــه غــاړه
یـو ځـل چـې وه راوان ځـان لـه جـدا د رود پـه غـاړره
قیصــــه کــــه د ادم د درخـــانۍ د رود د خـــوا وه
زمـــوږ د مینـــې هـــم وه ابتـــدا د رود پـــه غـــاړه[19]

رحمت شاه سائل:

کــار دغمــزو غــواړي زړهٔ درد د پرهــر څــه پېژنــي
زړهٔ خــو باچــا وي دخپــل ځانــه بهــر څــه پېژنــي
زلفــې راټــولې کــړه راټولــه کــړه ځــواني د ارمــان
خلـــق ټالونـــه د وړوکـــي اخترڅـــه پېژنـــي[20]

رحمت شاه سائل:

کـــار دغمـــزو غـــواړي زړهٔ درد د پرهرڅــــه پېژنــــي
زړهٔ خـــو باچـــا وي د خپـــل ځانـــه بهـــر څـــه پېژنـــې
زلفـــې راټـــولې کـــړه ټولـــه کـــړه ځـــواني د ارمـــان
خلـــق ټالونـــه د وړوکـــي اختـــر څـــه پېژنـــي

ډاکټرصاحب شاه صابر:

څـوک مـې د جـام ملګـري څـوک مـې دغـزل ملګـري
زمـــا پـــه دې ښـــار کښـــې بـــلا دي د محفـــل ملګـــري
د زلفـــو ســـېوري تـــه د سُـــورانګار خبـــرې کـــوي
خـــو د حـــالاتو پـــه غرمونـــهٔ دي د زغـــل ملګـــري
د چاپښـــې مـــاتې وې د چـــالاکې تـــه ملاماتـــه وه
مابـه تـر څـو پـورې پـه ځـان پسـې راښـکل ملګـري[21]

سیدخالقداد مید:

ســـتا مینـــه پـــه هـــيڅ رنـــګ د پرېښـــودو خبـــره نـــه ده
درځـــم بـــه زه پـــه خپلـــه د جرګـــو خبـــره نـــه ده

څه څرېکې څۀ تنهاکې دي خو بونه مې حرام شو
دمينې تاؤ ستي کړم د لمبو خبره نه ده [۲۲]

ډاکټر عبدالقدوس عاصم:

چرته چې اووينمه توري سترګې سرۀ لاسونه
ماته راياد شي هغه ستا زاړۀ زاړه لاسونه
په دواړه لاسه کښې دې ګوته هم پاتې نۀ شوه
تاته دا چاوې چې هر چاله ورکوه لاسونه [۲۳]

پروفېسر فضل نصيراسير:

پرې به دې نه ږدي په قالازما دمرګي وروستو
زما د سوي زړۀ ازار زما د مرګه وروستو
زما خو غم مه کوه خبر دے که رسوا شوم نو څۀ
په تابه څوک کوي اعتبار زما دمرګ نه وروستو

ډاکټرخالق زيار

کۀ د زړۀ مې کور مې ودان دے او که ډنګ دے
زما کار د ښائستو نو په سرننګ دے
که دې ناز دے که غرور که سرزوري ده
هر يو رنګ دې هم زما د خوښې رنګ دے

حسن ناشاد:

ګلونه رېژي او بنګړي ماتېږي
په دې سپرلي کښې خو زړګي ما تېږي
حسنه تاته کله اوکوري چې
اکثر د جونونه منګي ماتېږي [۲۴]

اقبال شاکر

د زړۀ زخمونـه بـه تکـور خمـار تـه چرتـه پرېـږدي
مونږ څوک په خپله خاوره خپل اختیار ته چرته پرېږدي
زۀ سـتا یادونـه د خپـل زړۀ دکـوره نـۀ اوباسـم
چرته وروک نه شي څوک واړۀ بازار ته چرته پرېږدي[۲۵]

امیر قاسم هاشمي

مـړاوي کاتـۀ د چـا ګـلا مخـي رانـه ژونـد اخلـي
د زړۀ د درد د هـرې څړیکـې نـه مـې خونـد اخلـي
زۀ کـه پـرې ږدېـرې پتمـې ږدم د بـې وسـې د صبر
وعـده چـې ماتـه شي مـات زړۀ کلـه پېوند اخلي[۲۶]

چزرنوش شهاب

اخـر انسـان یمـه د ظلـم بـه غندنـه کـوم
ددې زخمـي زخمـي مـاحول ه بـې خبـره نـۀ شـې
چـې دغـزلا دنیـا تـه ورکـړې ابـدي ګلونـه
اے د شـهاب د زړۀ اوازه بـې اثـره نـۀ شـې[۲۷]

حبیب الرحمان افګار

سـتا پـه پژمـرده خـاطر سـلام اخسـتۀ پېـژنم
زۀ دې پـه نظـر د انتقـام اخسـتۀ پېـژنم
ګـوټ د چانـه پـاتې بـه قاتـل د تنـدې نـۀ کړمـه
جـام تویـول پېـژنم کـه جـام اخسـتۀ پېـژنم[۲۸]

بهرام زخمي

سـتا د محبـت پـه ارمـان کـور کلـے
پـاتې شـو زمانـه قربـان کـور کلـے
څـو بـه دې د غـم پـه سرو لمبـو سـوزي
دا د زمـا د زړۀ پرېشـان کـور کلـے

علي اکبر سیال

چې د مغلو په کنډر کښې اوسې
پښتنې څنګه خوشحال خان پیدا که[۲۹]

فقیر شاه مسیکن

چې تېږندې ترینه زما د مرې جوړې نهٔ شي
د داسې زلفو په کمڅو رسو دې اور پورې شي[۳۰]

شاه ذوالله اسیر

ورله به څاڅکي څاڅکي وینه چې مې ګل وساتو
زړهٔ کښې مې څومره احترام ستا د اوربل وساتو
هر یو رېګزار ته ستا د لار مې کړهٔ طوفان اسویلي
منې ، که نه څومره مې خیال ستا د هر پل وساتو

ډاکټر علي خېل دریاب

شپه که هر څومره تیارهٔ شي که درنه شي
د سحر د رڼا لارې نیوے نهٔ شي
چې هغه راته د قندو قتلمه شي
نو زما به ورته صبر څنګه وشي

د ملاکنډ په زرخېزه او مردم خېزه سیمه چې د پښتو غزل کومه ابیاري شوې ده او لاکېږي نو د دې نه دا اندازه په ښهٔ شان سره کېږي چې په راروان وخت کښې به د پښتو غزل په دې زنځیر کښې د ملاکنډ کړې ښهٔ رنګینه او سنګینه وي .

# حوالې

[۱] عبدالحلیم اثر ، روحاني تړون او رابطه ، جلد دوم ، مکتبه حضرت سید نجات قلندر قریه هوني سیدان ، مخ ۷۵۳

[۲] علي خېل دریاب ، د خوشحال په شاعرۍ کښې مذکور شخصیات، د پي ایچ ډي مقاله، ناچاپ عبدالحلیم اثر ، روحاني تړون او رابطه ، جلد دوم ، مکتبه حضرت سید نجات قلندر قریه هوني سیدان ، مخ ۷۵۳

[۳] خوشحال خان خټک، سوات نامه، مرتب همېش خلیل، مرکزي خوشحال ادبي ثقافتي جرګه اکوړه خټک، شرکت پرنټنګ پرېس لاهور، اکتوبر ۱۹۸۲ء مخ ۱۷

[۴] محمد افتخار فاروقي مغل خېل ، "لعلونه په ایرو کښې" قلمي نسخه

[۵] هم دغه کتاب، هم دغه مخ

[۶] عبدالحلیم اثر افغاني ، تېر هېر شاعران، پښتو اکېډمي، پبلک آرټ پېښور، اپرېل ۱۹۶۳ء مخ ۱۰۵

[۷] پروفېسر افضل رضا ، د پښتو غزل، پښتو اکېډمي، سپین زر سروسز پېښور، ۱۹۷۸ء مخ ۱۹۰

[۸] د محمد ظریف خان نمسي کرنل ریټائرډ ابرار یوسفزي (نائب ناظم اعلیٰ ملاکنډ) سره ددې سهرې قلمي نسخه موجود ده۔ د دوي په مننه دلته نقل شوه۔ زما د کتاب سهرې د چاپ په وخت ددې سهرې متعلق ماته معلومات نۀ وو۔ اوس ددې مقالې د چاپ په وخت راته دا سهره ترلاسه شوه۔ ګني ما به ئې په هغه کتاب کښې ذکر کړے ؤ۔ غالباً چې دا به په پښتو کښې وړمبۍ سهره وي۔

[۹] د قاضي عرفان الدین د وفات نېټه ډاکټر سلطان روم په خپل پي ایچ ډي مقاله ''ریاست سوات'' (مترجم پروفېسر احمد فواد) کښې داسې ذکر کړې ده چې دے سوات ته تلے ؤ چې په دسمبر ۱۹۲۴ء کښې هلته چا وژلے ؤ۔ مخ ۱۲۱ ، ولې د هغوي د خاندان مطابق په ۱۹۳۱ء کښې دا واقعه پېښه شوې وه۔ محقق

[۱۰] پروفېسر افضل رضا ، پټ ستوري، پښتو اکېډمي، جدون پرېس ۱۹۸۴ء مخ ۳۲۰

[۱۱] رحیم شاه رحیم ، واوړینې څوکې مخ ۲۳

[۱۲] هم دغه حواله

[۱۳] عبد الله جان شریف ، پښتون ، اول دسمبر ۱۹۴۰ء ، مخ ۴۱

[۱۴] ژوندے ځان په زمکه ښخ کړه لکه تخم
که لوئي غواړې د خـاورو پـه مقام شه (رحمان بابا)

[۱۵] عبدالرؤف قربان ، پښتون ، اول اګست ، ۱۹۳۸ء ، مخ ۲۲

[۱۶] احمد کاکا ،خدائي خدمتګار تحریک ،یونیورستي بک ایجنسي ، ۱۹۹۱ء،مخ ۱۸۲

[۱۷] امرتسر

[۱۸] ساجد سبحان، د بېلتانهٔ سندرې، دانش خپروندوهي پېښور، ۲۰۰۷ء مخ ۱

[۱۹] پروفېسر محمد نواز طائر، سلګۍ، تاټه ادبي ټولنه، ۲۰۱۲ء ص ۱۲۱

[۲۰] رحمت شاه سائل، درد چې د څړیکو ځانګې وسپړلې، پښتو ادبي جرګه ملاکنډ ، ۱۹۹۶ء ، ص ۸۱

[۲۱] صاحب شاه صابر، تکل، پښتو ادبي جرګه ، ۱۹۸۶ء ص ۹۲

[۲۲] سید خالقداد امید ، کلۍ ګل شوے، عامر پرنټنګ ایجنسي پېښور، ۲۰۱۰ء ص ۲۰۳

[۲۳] ډاکټرعبدالقدوس عاصم، دا زما کتاب دے، تاټه ادبي ټولنه ، ۲۰۱۴ء ص ۲۵۹

[۲۴] حسن ناشاد ، بڼ، بلال پرنټنګ ایجنسي، ص ۸۰

[۲۵] اقبال شاکر ، رېدي رنګې اوبهٔ ، مرستیال لیکوال ملاکنډ ، ۲۰۱۳ء ، ص ۹۸

[۲۶] سید امیرقاسم هاشمي ، چې للمې ګل شي ، پښتو ادبي جرګه ملاکنډ ، ۲۰۱۳ء ، ص ۱۰۸

[۲۷] زرنوش شهاب ، دا خاموشي به د شپې زر ماته شي ، هنر کور ، ۲۰۰۷ء ، ص ۴۵

[۲۸] حبیب الرحمان افګار ، په بام برڅېره د ښکلا رنګونه ، تاټه ادبي ټولنه ملاکنډ ، ۲۰۱۵ء ، ص ۵۵

[۲۹] علي اکبر سیال ، ژوند جانان ، پښتون کلچر ایسوسي ایشن اسلام اباد ، ۱۹۹۵ء ، ص ۱۲۵

[۳۰] فقیر شاه مسکین ، زېلے ژوند ، جدون پرېس پېښور ، ۱۹۹۰ء ، ص ۶۲